DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

اورزګان
د پايلي لنډيز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په اورزګان ولایت کې دواړو جنګ او طبیعي پېښو په معیشت بده اغیزه درلودلې او کورونه یې وران کړي چې دا په خپله د دې لامل شوي چې د دې ولایت ۴۰٪ وګړي د داخلي بېځایه شویو په توګه خپل کورونه پرېږدي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماتیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره .www.displacement iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه داډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښي ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۵** ولسوالۍ وارزول شوې
**۹۸** کلي وارزول شول

**۶۰۱**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۸۹۹**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۸۱،۳۱۶**
داخلي بېځايه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۱۳،۷۳۶**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲،۹۵۲**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۰**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي

**۷۹**
راستنيدونکي او داخلي بېځايه شوي په خېمو او يا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۲**
وګړو په اورزګان ولايت کې خپل کورونه د داخلي بېځايه شويو په توګه پرېښي – ترينکوټ ولسوالۍ د ولايت په کچه تر ټولو زياته اغيزمنه ده ځکه چې ۶۱٪ کسانو چې خپل کورونه د داخلي بېځايه شويو په توګه پرېښي له دې ولسوالۍ څخه دي

**۴ څخه ۱**
کس په اورزګان ولايت کې خپل کور ته ستون شوی – ترينکوټ ولسوالۍ د ولايت په کچه د ۶۷٪ وګړو کوربه توب سره تر ټولو زياته اغيزمنه ده

**۳ څخه ۱**
وګړی په ترينکوټ ولسوالۍ کې يا داخلي بېځايه شوی دی او يا هم راستنېدونکی (۳۴٪)

**۱۸،۰۸۰**
کسان په ترينکوټ ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري (۳۲٪)

**۱۴،۲۱۴**
کسان په اورزګان ولايت کې روغتيايي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسواليو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ترينکوټ | ۱۱۲,۲۸۳ | ۵۶,۷۸۲ | ٪۳۴ | ۰ | ٪۰ | ۱۰۱,۷۲۴ | ٪۹۱ | ۵۶,۷۸۲ | ٪۳۴ | ۷۴,۹۰۲ | ٪۶۷ | ۰ | ٪۰ |
| چوره | ۶۹,۸۰۴ | ۵,۵۲۳ | ٪۷ | ۵۳۹ | ٪۱ | ۱۸,۵۱۷ | ٪۲۷ | ۴,۹۸۴ | ٪۷ | ۷,۱۶۹ | ٪۱۰ | ۹۳۲ | ٪۱ |
| شهيد حساس | ۶۴,۴۱۳ | ۳,۸۹۰ | ٪۶ | ۰ | ٪۰ | ۱۵,۳۱۳ | ٪۲۴ | ۳,۸۹۰ | ٪۶ | ۸,۱۸۱ | ٪۱۳ | ۰ | ٪۰ |
| دهراود | ۶۶,۷۹۷ | ۱۳,۰۷۴ | ٪۱۶ | ۰ | ٪۰ | ۱۸,۹۸۵ | ٪۲۸ | ۱۳,۰۷۴ | ٪۱۶ | ۲۱,۱۸۱ | ٪۳۲ | ۰ | ٪۰ |
| خاص اورزګان | ۱۰۷,۶۶۷ | ۲,۹۴۶ | ٪۳ | ۳۶۰ | ٪۰ | ۱۲,۵۴۶ | ٪۱۲ | ۲,۵۸۶ | ٪۲ | ۲,۳۰۳ | ٪۲ | ۲,۰۲۰ | ٪۲ |
| مجموعه | ۴۲۰,۹۶۴ | ۸۲,۲۱۵ | ٪۱۶ | ۸۹۹ | ٪۰ | ۱۶۷,۰۸۵ | ٪۴۰ | ۸۱,۳۱۶ | ٪۱۶ | ۱۱۳,۷۳۶ | ٪۲۷ | ۲,۹۵۲ | ٪۱ |

* د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل

سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≥ ۲۰۰,۰۰۰   د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



د عامه پوهاوی نشتون او ښوونځی څخه د محرومو ماشومانو شمېر زياتوالی په ولايت کې د ماشومانو د خونديتوب تشويشونه زياتوي لکه دا داخلي بېځایه شوي ماشومان چې په چنارتو ولسوالی کې نا خوندي او ناپاکې اوبه له يو سيند څخه اخلي او څښي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيسټم د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقيب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبيله يي ډلو، کوچيانو او نړيوالو کارګرانو د نفوس، موقعيت او جغرافياوي تقسيماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستېدو لاملونه، اصلي او د موخې سيمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بياځلي بېځايه کېدنه، د جمعيتونو شمېر، د زيانمنتيا کچه او اوليه اړتياوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کاروونکو په توګه په کار ګماري. دا کاروونکي له کليدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ايزو بحثونو له لارې د کليو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سيمه ايز کاروونکي د مستقيمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنيت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنيتي خطرونو له امله سيمه ايز کاروونکي نشي کولای سيمې ته سمارټ ټيليفونونه يا ټابليټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسيله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تاييد وشي او د ارزونې پروسه په ګرنديتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوي فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري ترې کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تاييد شوې نو د موبايلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقيم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بيا دا ډېټا يا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفيه او تاييد کېږي. دا دقيقه بياکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کيفيت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کاروونکي معلومات يا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کليو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او يا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعيتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کليو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغليو او وتليو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعيتونو لپاره په هغو کليو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کليدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولايتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به يوازې د کليو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کليدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کاروونکي د کليو په کچه کليدي معلومات له کليدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ايزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کاروونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د څو سکټوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کاروونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کاروونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جندر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. که څه هم په اورزګان ولايت کې د کليدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه يوازې ۰،۲٪ يې ښځې دي.

**۶۰۱**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۲۱**
کليدي معلومات ورکوونکي يا راستنيدونکي دي او يا هم داخلي بېځايه شوي (۲۰٪)

**۱**
ښځينه کليدي معلومات ورکوونکي (۰،۲٪)

**۱۲۲**
له کوربه ټولنو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۰٪)


**۶۰۰**
نارينه کليدي معلومات ورکوونکي (۹۹،۹۸٪)

**۲۰۹**
څوسکټوريزو او ټولنيزو خدماتو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۳۵٪)


**۶،۱**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۱۲۴**
له سيمه ايزو چارواکو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۱٪)

د ډول پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | اورزګان




د ډول او جنسيت پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | اورزګان



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه اورزګان ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۹۲٪ زیاتوالی شوی خو په ۲۰۱۷ کال کې ۶۸٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۹۴٪ کموالی شوی.

**۸۹۹**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۸۵۷**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۹۵٪)


**۶۰۷**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۶۷,۵٪)


**۴۲**
ایران څخه راستنېدونکي (۵٪)


**۲۹۲**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۳۲,۵٪)


**۰**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي



# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او د طبيعي پېښو یا د انسان په لاس جوړې شوېو پېښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۸۱،۳۱۶**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۷۸٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۵۶،۷۸۲**
ترینکوټ ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۲۲٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي

**۹۸٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | اورزګان





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | اورزګان





د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | اورزګان




رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | اورزګان



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)





پـه عمومـي توګـه اورزګان ولایت له ټولټال ۸۲،۲۱۵ راسـتنېدونکو او داخلي بېځایه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي چـې ۱٪ (۸۹۹ کسـان) راسـتنېدونکي او ۹۹٪ (۸۱,۳۱۶ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانـدې جـدول کـې د اورزګان ولایت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زیاتـو بېځایـه شـویو او راسـتنېدونکو راتـګ څخـه اغیزمـن شـوي. دا ۲۰ کلي (د اورزګان ولایـت ۹۸ ارزول شـویو کلیـو څخـه ۲۰٪) د ټـول ولایت ۷۶٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه توب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتۍ پـر وړاندې چې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ ته شـوې حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محـدودې شـوې سرچینـې او کاري فرصتونـو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زیانمنـو کلیـو څخه ۱۴ کلي یـې په ترینکوټ ولسـوالۍ کې موقعیـت لـري او د دې جـدول ۸۱٪ (۵۰,۸۷۹) راسـتنېدونکو او داخلي بېځایه شـویو څخه کوربـه تـوب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | ترینکوټ | ترینکوټ | ۱۷,۲۰۰ |
| ۲ | کاریز خیرو | ترینکوټ | ۵,۹۰۰ |
| ۳ | دهراود | دهراود | ۵,۲۰۰ |
| ۴ | سرخ مرغاب | ترینکوټ | ۳,۶۰۰ |
| ۵ | سوله جنوبي | ترینکوټ | ۳,۳۹۰ |
| ۶ | نیازی | ترینکوټ | ۲,۹۰۰ |
| ۷ | تالان | ترینکوټ | ۲,۶۳۹ |
| ۸ | لبلان | دهراود | ۲,۵۱۰ |
| ۹ | گرم آب (۱) | ترینکوټ | ۲,۴۳۰ |
| ۱۰ | آب برده | ترینکوټ | ۲,۳۴۰ |
| ۱۱ | ده جوزی حسن زی | ترینکوټ | ۲,۲۸۵ |
| ۱۲ | سر شیخ علي | ترینکوټ | ۲,۱۰۰ |
| ۱۳ | ده یک | ترینکوټ | ۱,۹۲۰ |
| ۱۴ | موسی زی | ترینکوټ | ۱,۸۷۵ |
| ۱۵ | سر خم حولیا جنوبي | ترینکوټ | ۱,۲۹۰ |
| ۱۶ | لوندیانه | دهراود | ۱,۲۷۴ |
| ۱۷ | زب | ترینکوټ | ۱,۰۱۰ |
| ۱۸ | زر طلا | دهراود | ۱,۰۱۰ |
| ۱۹ | کیشی | شهید حساس | ۸۸۷ |
| ۲۰ | منی غر | چوره | ۸۴۰ |
| | | مجموعه | ۶۲,۶۰۰ |

## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| ترینکوټ | ۰ | ۵۶,۷۸۲ | ۵۶,۷۸۲ |
| دهراود | ۰ | ۱۳,۰۷۴ | ۱۳,۰۷۴ |
| چوره | ۵۳۹ | ۴,۹۸۴ | ۵,۵۲۳ |
| شهید حساس | ۰ | ۳,۸۹۰ | ۳,۸۹۰ |
| خاص اورزګان | ۳۶۰ | ۲,۵۸۶ | ۲,۹۴۶ |
| عمومي مجموعه | ۸۹۹ | ۸۱,۳۱۶ | ۸۲,۲۱۵ |




د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)




د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې لـه یـوې ارزول شـوې سـیمې څخـه چـې هلته یـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه یـوې بلـې سـیمې ته تـللي دي تر څو د وسـله والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندیښـنې او طبیعي پیښـو یا د انسان پـه لاس جوړو شـویو پیښـو څخه خوندي ووسي.


**۱۶۷،۰۸۵** داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي


**۸۴٪** په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۷۹٪** د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۲۱٪** د طبیعي پیښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځايه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوي سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۱۱۳،۷۳۶**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۹۱٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۵ څخه ۴**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۲ ولسوالیو ته راستانه شوي: ترینکوټ او دهراود (۸۴٪)


**۵ څخه ۳**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۶۶٪ کسان ترینکوټ ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | اورزګان




راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنۍ بهیر | اورزګان



د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي.


**۲،۹۵۲** د هېواد څخه بهر تللي دي

**۰** اروپايي هېوادونو ته تللي دي


**۱،۲۷۲** ایران ته تللي دي (۴۳٪)

**۱،۶۸۰** پاکستان ته تللي دي (۵۷٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | اورزګان





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | اورزګان





ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | اورزګان




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | اورزګان




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | اورزګان



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ترینکوټ | ۵۶,۷۸۲ |
| ۲ | دهراود | ۱۳,۰۷۴ |
| ۳ | چوره | ۵,۵۲۳ |
| ۴ | شهید حساس | ۳,۸۹۰ |
| ۵ | خاص ارزګان | ۲,۹۴۶ |
| | عمومي مجموعه | ۸۲,۲۱۵ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | چوره | ۴۳ |
| ۲ | خاص ارزګان | ۳۶ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۷۹ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۲ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | شتون نلري |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیایي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ترینکوټ | ۹,۸۳۴ |
| ۲ | دهراود | ۳,۶۸۵ |
| ۳ | شهید حساس | ۶۹۵ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۱۴,۲۱۴ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ترینکوټ | ۲,۷۵۰ |
| ۲ | شهید حساس | ۲,۰۲۲ |
| ۳ | دهراود | ۴۵ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۴,۸۱۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ترینکوټ | ۱۸,۰۸۰ |
| ۲ | دهراود | ۵,۱۹۰ |
| ۳ | چوره | ۴,۰۶۰ |
| ۴ | خاص ارزګان | ۲,۷۹۰ |
| ۵ | شهید حساس | ۴۵۸ |
| | عمومي مجموعه | ۳۰,۵۷۸ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | اورزګان




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### یو سړی چې د خپلې کورنۍ څخه د ملاتړ لپاره مبارزه کوي

دل آغا د اورزګان ولایت له شهید حساس ولسوالۍ څخه دی. هغه د ۱۰ کسیزې کورنۍ غړی دی. د هغه په کورنۍ کې د هغه پلار، مور، درې ورونه، دوه خریه، دوه خرزه او یوه ښینه ژوند کوي.

په ۲۰۱۲ کال کې د هغه په کلي کې د بلواګرو او دولتي ځواکونو تر منځ جګړه روانه وه. د دل آغا او د هغه د کورنۍ په ګډون د کلي ډېریو کسانو خپل کورونه پرېښودل. هغوی له شهید حساس ولسوالۍ څخه ترینکوټ ولسوالۍ ته ولاړل. له ۲۰۱۲ کال څخه ترینکوټ ولسوالۍ له ۵۶،۷۸۲ رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کړی.

دل آغا او د هغه کورنۍ اوسمهال د ترینکوټ ولسوالۍ په مرکز کې په یو کرایي کور کې ژوند کوي او د میاشتې ۵،۰۰۰ افغانۍ کرایه ورکوي. د هغه یو ورور د افغان ملي پولیسو په لیکه کې د افسر په توګه کار کاوه او د کورنۍ یوازینی عاید لرونکی غړی وه. که څخه هم هغه په دې وروستیو کې د بلواګرو په یو برید کې له دې نړۍ څخه ولاړ.

اوس دل آغا مجبور دی چې د خپل او د خپل د ورور کورنۍ څخه له مالي لحاظ نه ملاتړ وکړي. هغه وایي چې د کاري فرصتونو د نشتوالي له امله نشي کولای خپلې کورنۍ ته خواړه چمتو کړي. له همدې امله هغه مجبور دی چې له ملګرو او خپلوانو څخه پور واخلي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



دل آغا یو له ۱۴۰،۶۵۷ داخلي بېځایه شویو څخه دی چې د اورزګان ولایت دننه بېځایه شوی دی او هغه او د هغه کورنۍ د ژوندي پاتې کېدو لپاره په پور باندې تکیه کوي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړيوال ملاتړ ټيم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسايل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکيت، سيمه او يا هم د هغه د چارواکو او يا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړيوال سازمان له هېڅ نظر يا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زياتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړيکه کې شئ**

د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټيم سره په اړيکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

په همغږي سره

Co-funded by the European Union

ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION

NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS

MOFAT

Canada